AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال
۲۰۲/۱۰/۱۸

# د نجونو زدکړې روا که ناروا؟

وېل: د نجونو زدکړې په اسلام کې نشته!
دونیا راوخښمېده، استدلال وشو، ټولو رد کړه.
وارخطا شول، وېل: نه په اسلام کې شته، خو د افغانانو په فرهنګ کې نشته.
د دې درواغو د ډوبولو لپاره بیا تاریخي- فرهنګي مستند دلایل لکه سمندر په څپو راغلل، په اسیا کې یو له لومړنیو هېوادو افغانستان و، چې د ښځو نهضت یې له خپلواکۍ سره هممهاله وځلاوه او نجونو یې ښوونځیو ته لار وایسته.
د ښارمېشتو لکونو نجونو عکسونه خپاره شول، د هغوی اوښکي، ژړاګانې او چیغې خپرې شوې، چې: مورږ ښوونځي غواړو ...
بیا چې ځانونه ورته درواغجن وبرېښېدل، نو دا ډمامه یې رامخکې کړه، چې: دا خو ځو ښارینې نجونې دي، په کلیو کې یې خلک نه غواړي.
ناڅاپه د پکتیکا یا خوست هاغه وطني سپین ږیری د ژبو پرسر شو، چې خپلې دوه - درې لونې به یې هرسهار په بایسکل لس دولس کیلومتره لرې ښوونځي ته رسولې او دا کار یې لکه فرض لمونځ داسې کاوه.
بدخشان د څپاندې کوکچې په ژبه ووېل: ان د کلیو اتیا سلنه نجونې یې هم زدکړې کوي او د نالوستیو ښځو شمېره په کې په نشت شمار ده، نه پوهېږم بدخشان په افغانستان کې شمېرې که نه؟ دا ولایت کلیوال، بېوزلی او لرې پروت دی که نه دی؟ د غور و فاریاب و ننګرهار و لغمان نجونې خو یې لا مه پوښته.
دا عکس وګورئ!
دا غرونه، دا ښکلی کلی او د دې معصومو، باغروره او پیاوړو انسانانو عظمت ته ځیر شئ!
دا عکس درته وایي: نه د افغانانو دین او نه هم د افغانستان فرهنګ، یو هم د نجونو د زدکړو مخالف نه دی. دا درواغجنه دعوه له بهره راغلې، راوستل شوې ده، راتپل شوې ده، زموږ نه ده، ښکېلاکي ده، استخباراتي ده، پاکیستاني- انګریزي ده.
عکس وګورئ، اوښکې مه تویوئ، غږ پورته کړئ او اراده مو پیاوړې وساتئ!
دین و فرهنګ د خلکو ارزښتونه دي، په دین و فرهنګ د تور تهمت پورې کول د افغانستان له ارزښتونو سره ښکاره دوښمني ده!

وېښتیا، روښانتیا او بدلون




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ